نجیب الله منلی

۲۰۱۷/۱۱/۰۳

# ارمــــــان

څوک به څېړی وه، څوک به لمنځه وه، ممانه به وه

دلته ګورګوره او پلوڅه او د صبر ونه

هلته سنځله، دې خوا وله له اوبښتي سره

چا به وژ لیچي په بخمل کي نغښتي

چا به په ګوتو کي اغزي ګرزول

پاس یې د پانو چتر

تر شنه اسمان لاندې رنګ رنګ پرونو

د بوډۍ ټال جوړاوه

لاندې پر ځمکه

راتویو شوو د لمر وړانګو به هم

د ستارو په شانته

د شنو وښو پر لمن پړک وهلای

هلته لږ لږې د اوبو سندره

د رنګارنګ مرغیو شور سره مله.

کاشکې چې نجونې په ځنګل لوېدای

ما به هم باد غوندې د هرې یوې

د څنو ورږم

ځان سره هره خوا وړ.

زه به هم باد غوندې له هرې یوې

جلا جلا تاوېدم

** * **